## هیلتی ستارت

دا برنامه د کوچني ماشومانو میندو او/یا امیندواره میرمنو سره د دوی د ماشومانو لپاره د صحي خواړو او ویټامینونو لګښتونو سره مرسته لپاره ده. هیلتی ستارت د شیدو او میوو په څیر د خواړو لګښتونو پوښلو کې مرسته کوي، او وړیا ویټامینونه چمتو کوي.

### وړتوب

- د هیلتی ستارت مطالبه کولو لپاره، تاسو باید دمخه د یونیورسل کریډیټ ترلاسه کونکو څخه اوسئ.
- تاسو باید د لس اونیو څخه ډیر امیندواره یاست او / یا لږترلږه د 4 کلونو څخه کم عمر د یو ماشوم لپاره د مور او پلار مسؤلیت ولرئ.
- ستاسو د کورنی میاشتنی عاید د کار څخه باید 408 پونډ یا لږ وي

### هیلتی ستارت برنامه څنګه کار کوی؟

که ستاسو مطالبه ومنل شي، تاسو ته به د پیسو سره د هیلتی ستارت کارت واستول شي چې تاسو کولای شئ د انګلستان په پلورنځیو کې د شیدو، د ماشوم خانګړی شیدو او میوو او سبزیجاتو (تازه، منجمد یا کنسرو) پیرودلو لپاره وکاروئ. تاسو نشئ کولای د نورو محصولاتو پیرودلو لپاره دا کارت وکاروئ. دا د آنلاین پیرود لپاره نشي کارول کیدای او تاسو نشئ کولای له دې څخه په ATM کې پیسې وباسي.

تاسو کولای شئ دوړیا هیلتی ستارت ویټامینونو اخیستلو لپاره هم دا کارت وکاروئ. دا کیدای شي هم داسې ویټامینونه وي چې د امیندواری او شیدې ورکولو پرمهال د میرمنو ملاتړ کوي یا هم د ماشومانو او کوچني ماشومانو لپاره ویټامینونه (تر 4 کلنی پورې) وی.

### څنګه غوښتنه وکړئ

د هیلتی ستارت ویب پاڼی[1] ته لاړ شئ.

تاسو ته لازمه ده چې خپل نوم، پته او د زیږون نیټه او د خپل ماشوم د زیږون نیټه، یا که تاسو امیندواره یاست ټاکل شوې نیټه چمتو کړئ. تاسو سره به د خپل ملي بیمې شمیره هم وی، او تاسو ته لازمه ده چې د یونیورسل کریدت اخستلو سند ته لاسرسی ولرئ (تایید کوی چې تاسو یونیورسل کریډیټ ترلاسه کوئ).

### څومره تاسو به یې ترلاسه کړئ

- که تاسو د لس اونیو څخه ډیر امیندواره یاست، تاسو به په اونی کې 4.25 پونډ ترلاسه کړئ ترڅو چې ستاسو ماشوم زیږیدلی وي.
- که تاسو د یو کالو څخه کم ماشوم لرئ، تاسو به په اونی کې 8.50 پونډ ترلاسه کړئ.
- که تاسو د یو او څلور کلونو ترمنځ ماشوم لرئ، تاسو به په اونی کې 4.25 پونډ ترلاسه کړئ.
- که تاسو څو وړ ماشومان ولرئ، تاسو به اضافي ګټې ترلاسه کړئ. د مثال په توګه، که تاسو یو ماشوم 2 کلن او یو ماشوم 3 کلن وي، تاسو به په اونی کې 8.50 پونډ ترلاسه کړئ.
- کله چې ستاسو ماشوم 4 کلن شي، یا که تاسو وغواړی چې نور ګټې ترلاسه نکړئ، دا تادیات به پای ته ورسیږي.

که تاسو د یونیورسل کریډیټ مطالبه کوئ، تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو د یونیورسل کریډیټ مطالبه کې د هر ماشوم نوم په سمه توګه لیکل شوی ترڅو ستاسو د ماشومانو لپاره د هیلتی ستارت ملاتړ لپاره وړتیا ترلاسه کړي.

که تاسو نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، تاسو کولی شئ د 447360861633 + واتس اپ شمیره او یا Afghanistan@uspuk.org بریښنالیک ته پیغام پریږدئ.

[1] Get help to buy food and milk (Healthy Start) - NHSBSA